AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: بشرمل پسرلی

۲۰۲۴/۰۴/۲۸

# فډرالېزم: خیالي طرحه د تجزیې له ارمان سره

۲ برخه

**د فډرال نظام ځانګړي حالات او وضعیتونه**

اساساً فډرالېزم په پخپله خوښه د خپلواکه ساحو له یوځای کېدو یا له اتحاد څخه رامنځ ته شوی سیاسي نظام دی، ترڅو تولیز یا جمعي امنیت او ځواکمن مرکز رامنځته کړي او یا هم د لویو جغرافیو په ښه ډول د مدیریت موخه وه، خو کله چې د فډرالېزم د رامنځته تګ جزیي فکتورونو باندې بحث کېږي او د بشر په خیر او فلاح ګڼل کېږي، دا هڅې په ځانګړې توګه په وروسته پاتې هېوادونو کې له ناکامۍ سره مخ شوي او ناکامې دي.هغه هېوادونه چې د وګړو ترمنځ یې په طبیعي ډول مشترکات موجود وي، سیاسي کلتور یې په بسیط نظام وڅرخي اوکلتوري هویتونه د هېواد په مختلفو برخو کې په نامتراکمه توګه استوګن وي او هم د بهرنیو له لاسوهنو سره مخامخ وي، لکه افغانستان، هېڅکله به د ټوټه کېدو تیره د فډرال نظام په منلو کېنږدي. که چېرې دا ډول هېوادونه د ډېرو پرمختللو هېوادونو چې مرکزي فډرال حکومت یې یوازې د خپل هېواد ساتنه نه کوي، بلکې د نړۍ په کچه د خپل ځواک ننداره هم وړاندې کوي، د فډرال نخرې وکړي هم ځان ډوبوي او هم نور.

د فډرال سیاسي نظامونو وجودي فلسفه د خپلواکو جغرافیوي سیاسي واحدونو یوځای والی دی، د فډرالېزم بنسټیزه فلسفه دا نه وه، چې غیرمرکزیت ته میلان وښیي، بلکې لومړی د قدرت تمرکز په لور دا کار تر سره شوی. د بېلګې په توګه، د امریکا ۱۳ ګونې ایالتونو د مرکزي ځواک د رامنځته کېدو په موخه په فډرال هوکړه کړې، خو ددوی د فډرال فلسفه او ددوی اوسنی مثبت وضعیت له هغه نورو هېوادونو سره پرتله کول او بیا د فډرال نظام طرحې وړاندې کول، نه منطقي کار دی او نه هم عملي او تیوریک. هغه دولتونه، چې په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کې رامنځته شوي او په ځواکمنو دولتونو بدل شوي، فډرال سیاسي نظام یې تلپاتې دی، ځکه د هغه وخت شرایطو په پام کې نیولو سره، ددې هېوادونو د نظامونو تلپاتې والی باید د وړاندوینې وړ وی، خو په ټوله کې ډېری هغه دولتونه چې د انضمام ماډل پرته او یا په وروستیو کې یې فډرال نظام غوره کړی، تجزیه او پاشل شوي دي.

ځینې قومي فډرال غوښتونکي بیا د سویس فډرال ماډل یادونه کوي او د ورته سیاسي چوکاټ تحقق په افغانستان کې غواړي. لکه د فډرالېزم خیالي تصور، دا ډول اندونه هم د جنون له حده کم نه دي. مخکې له دې چې سویس فډرالي شي، له پېړیو را پدېخوا یې د فډرال کلي تصور منلی و. دشپاړسمې او اتلسمې پېړیو ترمنځ څلور مذهبي جګړې شوي، کله چې په نولسمه پېړۍ کې اقتصادي صنعت ډېره وده وکړه، اړ ول چې د مختلفو خپلواکو ساحو ترمنځ واټنونه لمنځه یوسي، ترڅو اقتصادي کړنې له تمې سره سمې پرمخ ولاړې شي او خپلو اقتصادي ګټو ته پراختیا ورکړي او هم جمعي امنیت ټینګ کړي، د فډرال په لور یې میلان زیات شو او خپلواکو ساحو پرېکړه وکړه، چې مرکزي ځواک رامنځته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کړي، چې پایله یې فډرال سیاسي نظام شو. د نړۍ پرمختګ او د بشریت تکاملي پړاوونوته که وکتل شي، د ټولنو پرمختګ فډرالېزم برېالی کړی، داسې نه دي شوي، چې فډرالېزم ټولنه پرمختللي کړې وي. هغه ډېرى فډرالي نظامونه، چې په شمله پېړۍ او یا یویشتمه پېړۍ کې رامنځ ته شول، ډېرى یې ټوټه شوي او د یوویشتمې پېړۍ لکه عراق او نیپال هم د متمرکز نظام په لور یې میلان زیات شوی، ترڅو د تجزیې او د نورو ناخوالو مخنیوی وکړي.

اوس به راشو دې پوښتنو ته چې ولې ځینو هېوادونو لازمه ګڼلې، چې فډرال سیاسي نظام و ټاکي یا یې غوره وګڼي؟ کوم ځانګړي حالتونه دي، چې د فډرال نظام شونتیا رامنځته کوي یا کوم وضعیت دې ته زمینه برابروي، چې یو هېواد فډرال سیاسي نظام غوره کړي؟ لاندې حالاتو فډرال سیاسي نظام ته ممکنه زمینې برابرې کړې وې:

**الف - د خپلواکو سیاسي واحدونو یو ځای کېدل:** کله چې یو دولت د څو خپلواکه او ممکن ځواکمنو ساحو (ایالتونو یا دولتونو) څخه د انضمایم ( یوځای کېدو ) ماډل څخه په ګټنې، پخپله خوښه یې فډرال مرکزي دولت د امنیت او پاېښت په موخه رامنځته کړی وي، بیا په طبیعي ډول فډرال حالت ځان ته غوره کوي. د بېلګې په توګه ، د امریکا متحده ایالات د ۱۳ خپلواکه واحدونو له یو ځای کېدو څخه رامنځته شوی، ترڅو له یو لوري خپل سیاسي او اداري مرکزي ځواک په محل کې وساتي او له بل لوري مرکزي فډرال دولت د غښتلتیا په موخه ولري، غوره یې ګڼلې چې د کنفډرېشن له هوکړې وروسته، فډرالي سیاسي نظام خپل کړي. په همدې ډول، کاناډا په ۱۸۶۷ کال کې د څلورو مستعمرو ( Nova Scotia, New Brunswick او Quebec او Ontario ) د یوځای کېدو محصول هېواد دی. ددې ترڅنګ، په نولسمه پېړۍ کې المان ۱۶ شاهزاده حکومت کوونکو ساحو څخه رامنځته شو. د امریکا متحده ایالتونو، کاناډا او د المان ترڅنګ، نور فډرال سیاسي نظامونه هم د انضمام ( یوځای کېدو ) ماډل څخه په ګټنې رامنځته شوي، لکه متحده عربي امارات، سویس، نایجریا، استرلیا، ارجنټاین، مالیزیا، ونزوېلا، بوسنیا او هرزګوین، کامروس او ځینې نور.

**ب - ځمکنۍ مساحت**: هغه دولتونه چې سیاسي جغرافیې یې ډېرې لویې دي او له یوه مرکز څخه یې اداره کول ستونزمن و، فډرال نظام ته یې ترجیح ورکړې. د ساري په توګه، د نړۍ ۲۸ هېوادونه فډرال سیاسي نظامونه لري، خو ددې هېوادونو سیاسي جغرافیه ددې خاورینې کرې نیمه برخه په ځان کې رانغاړي. روسیه، هند او برازیل هغه هېوادونه دي، چې ځمکنۍ مساحت یې نسبت نورو هېوادونو ته ډېر پراخ دی او په ورته وخت کې هغه هېوادونه، چې د خپلواکو ساحو د یوځای کېدو څخه رامنځته شوي، لکه د امریکا متحده ایالات، استرلیا، ارجنټیاین او کاناډا هم لویې جغرافې لري.

**ج - متراکم او متمرکز کلتوري نفوس:** د پورتنې فکټورونو ترڅنګ، ځینې فډرالي سیاسي نظامونه له دې امله هم رامنځته شوي، چې له ډېر پخوا څخه یې په یوه برخه یا ایالت کې له یو او بل څخه متمرکزه یا متراکمه متضاد قومي، ژبني او یا مذهبي نفوس یا جمعیت درلود، لکه عراق، ایتوپیا، جنوبي افریقا، سېنکیټس او نویس، جنوبي سوډان، بلجیم، او پاکستان یې غوره بېلګې دي، خو له تاریخي پلوه ددې هېوادونو مختلفو ساحو ډول- ډول خپلواک حکومتونه درلودل.

**د - د متعدده وړو جغرافیوي ساحو پایښت:** په ورته مهال، ځینې داسې وړې جزیرې او ځمکنۍ ساحې هم شته، چې پرته له فډرالي نظام څخه یې شتون ترګواښ لاندې راځي یا حکومتولي او دولت داري ناشوني او یا ډېره کمرنګه کوي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې ښه مثال يې مايکرونيشيا ده، چې له ۲۰۰۰ جزيزو څخه جوړ هېواد دی، خو نفوس يې د سل زرو په شاوخوا کې دی او سنټ کېټس او نويس له دوه لږ پرتو جزيزو څخه جوړ دی، چې له پنځوسو زرو څخه کم نفوس لري.

ه - **بهرنی لاسوهنې او فشارونه**: لږ شمېر فدرال نظامونه له دې امله هم رامنځته شوي، چې د قدرت د وېش لپاره بهرني فشارونه د واحد نظام د کمزوري کولو او يا هم په دې تصور، چې ګواکې ولسواکی ته به لار پرانيستل شي او په پايله کې يې له ياد هېواد سره پارټنر شېب او ملګرتيا وغځېږي، چې جرمني او عراق يې ښې بېلګې دي. د ساري په توګه، کله چې جرمني په لمړی نړيواله جګړه کې ويجاړاو موافقين د جګړې فاتحان شول، جرمني فاتحينو پخپل منځ کې وووېشه او له څه ځنډ وروسته د فدرال طرحه رامخ ته شوه، چې البته جرمني له نړيوالو جګړو پخوا د خپلواکو ساحو په يوځای کېدو د فدرال نظام تجربه درلوده. په ورته مهال، د عراق د فدرال نظام طرحه هم د عراقيانو له لوري نه وه وړاندې شوې، خو په عراق کې کردستان د کرد قوم متراکمه ساحه ده، خو اوس د وخت په تېرېدو د عراق کردي فدراليزم، چې يوازې کردي ساحو ډېر واکونه تر لاسه کړي، له ناکامی سره مخ دی، ان د عراق د تجزيې شونتيا يې لوړه کړې.

**د فدرال نظام ذاتي نيمګرتياوې**

د يو هېواد عيني او ذهني شرايطو او حالتونو ته په پام، ولسواک فدراليزم لکه نور ولسواکه نظامونو، په برياليو تولنو کې پايلې لرلي، لکه په سياسي پروسو کې د ولسونو ونډه پراخول، د استبداد مخه نيول، مسوول دولت رامنځته کول او هم فردي حقوقو، ټولنيز عدالت او د قانون واکمنی ته مناسب فرصت برابرول، چې دا مثبتې ځانګړې په بسيط ولسواک نظام کې هم په لا ښه ډول د پلي کېدو وړ دي، خو د فدرال سياسي نظام ذاتي نيمګرتياوې ډېرې ګواښونکې دي، په ځانګړې توګه وروسته پاتې هېوادونو لپاره، چې ځينې يې په لاندې ډول د يادونې وړ دي:

**الف - د فدرالي دولت د تجزيې شونتيا:** د فدراليزم اصلي فلسفه په افقي ډول د ملي حاکميت او د قدرت وېش دی. کله چې ايالتونه خپل اساسی قوانين او خپلواکه اجراييه، مقننه او قضايه قوه ولري، د وخت په تېرېدو يې واک او ځواک غښتلی کېږي، چې ورسره د تجزيې په لور مېلان زياتوي، په ځانګړې توګه هغه هېوادونه چې د بهرنيو لاسوهنو سره مخامخ وي، دولت پخپلو پښو نه وي درېدلی او مرکزي واک يې کمرنګه وي. بېلګې يې يوګسلاويا، پاکستان او نور فدرال هېوادونه دي، ډېری يې تجزيه شوي او پاتې ځينې نور يې د تجزيې له ګواښ سره مخامخ دي. کله داسې هم شوي، چې مرکزي فدرال دولت او يا هم ځينې ايالتونه نسبت نورو ته ځواکمن وي او ځينو هغو ته لازم پام نه کېږي، چې په پايله کې يې فدرال ايالتونه د تجزيې په لور ګام پورته کوي، چې بېلګې يې ايتوپيا، سوډان او داسې نور هېوادونه دي. ددې ترڅنګ کله چې د يو هېواد عيني او ذهني شرايط له پرمختللو غربي فدرال نظامو توپير لرونکي وي او يا هم د ملت او دولت جوړوني پوړونه يې نه وي وهلي هغه، چې غربي فدرال هېوادونه يې له پېړيو تجربه لري، د فدرال ايالتونو محلي هويت له هېوادني هويت څخه غښتلی کېږي، چې د هېواد تجزيه رامنځته کوي، چې عراق او نور هېوادونه له دې ننګوني سره مخ دي. کله چې ملي هويت له ايالتي هويت سره او يا ايالتي هويت له ملي هويت سره په ټکر کې راشي، دا د جګړې په لور ګام دی. کله دا ډېره شوني ده چې ځينې قومي ډلې په فدرالي ايالت کې ځان ته منابع او د واک اساس پيدا کړي، چې په دې حالت کې د بې ثباتی لړۍ پيلېږي، ځکه سيمه ييز ايالتونه ځان ته د سياسي، اقتصادي


افغان جرمن آنلاين په درنښت ټاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او حتا نظامي ځواک رامنځته کوي، چي بيا د هويتي فشارونو په ترخ کي، د ټوټه کېدو شونتيا لوړه ځي. په همدې ترتيب کله چي فډرال ايالتونه ځان ته د نور ډېر واک او ځواک په لټه کي شي، چي فډرالي خصلت دا حالت رامنځ ته کوي، مرکزي فډرال مجبوراً هوکړه نه کوي، نو فډرال ايالتونه په تجزيه لاس پورې کوي، دا حالت تقريباً په ټولو هغو فډرال دولتونو کي رامنځته شوی، چي ټوټه شوي. کله چي فډرال ايالتونه بغاوت وکړي، مرکزي حکومت اړ دی، چي پر ورانديز يې گامونه پورته کړي، چي د جگړې او نا مطلوب برخليک نه پرته بل څه نه شي زيږولی. دا وضعيت په هغو هېوادونو کې ډېر صدق کوي، چي فډراليزم يې په عصبيت او له يو او بله د تنفر له وجې رامنځ ته کړی وي، د ولسواکۍ پروسي بنسټيزه نه وي او يا هم ښه گاونډي هېوادونه ونه لري، ځکه چي غليم گاونډی له هر ممکن فرصت څخه د گاونډي هېواد د وېجاړې طرحې په ذهن کې پالي، چي دا جيوپولټيک او سياسي وضعيت زموږ په سيمه حاکم دی، ځکه خو گاونډي او سيمه ييز هېوادونه تل يو او بل ته گوته په ماشه دي. دې حالتونو ته په کتو، د فډراليزم تيورستان په دې معتقد دي، چي تجزيه او فډراليزم د يوې سکي دوه مخه دي، چېرې چي فډرال نظام وي، هلته د تجزيې شونتيا زياته ده، ځکه فډراليزم د تجزيې لپاره په ډېره ښه توگه بستر سازي کوي.

**ب - د بهرنيو هېوادونو د لاسوهنو شونتيا ډېرېږي:** د فډرالي ايالتونو سياسي خپلواکي او له قومي پلوه متمرکزه او متراکمه ساحو ته په کتو، د بهرنيو هېوادونو لاسوهنو ته زمينه مساعدېږي، په ځانگړې توگه هغه حالت کي چي گاونډيان يې ناسم نيت ولري او يا له يو ايالت سره مذهبي، ژبنی يا قومي تړاو ولري، چي بېلگي يې قبرس، عراق، پاکستان او داسي نور هېوادونه دي. په وروسته پاتي او يا بې ځواکه دولتونو کي فډرال ايالتونه پرځای ددې، چي د مرکزي دولت د قوانينو او پاليسيو پر بنسټ په ملي مسايلو کي چلندوکړي، بهرنيو هېوادونو ته د مستعمرې په ډول کارکوي. کله چي په نيپال کي د مذهبي تړاوونو له مخي د هند لاسوهني، په عراق کي د مذهبي تړاو پر بنسټ د ايران لاسوهني او په قبرس کي د ترکي او يونان لاسوهني د قومي تړاو پر بنسټ مطالعه کړو، پايله همدا ده چي دا ډول هېوادونه به نورو هېوادونو ته د سياسي نفوذ حوزې ( Political Sphere) رول لوبوي. د فډراليزم هغه فلسفه چي ساحي واکمني کړي، په فډرالي ايالتونو د نورو واکمنی ته لار پرانيزي.

**ج - د متجانسه ايالتونومنځ ته راتګ:** کله چي د کلتوري ( قومي، ژبني او يا مذهبي ) انگېرنو او انگېزو پر بنسټ، د يو هېواد سياسي نظام فډرال هغه ته واوړي، د قومي او ژبني متجانس يا يوشان والي ( Ethnic and Linguistic Homogenization ) ته هڅي زياتېږي، لکه د بوسنيا او هرزگونيويا، چي په ترخ کي يې هويتي او قومي حذف رامنځته کېږي. د موضوع د روښانتيا په موخه، د هندوستان په اترابردېش کي مسلمانان اقليت دي، چي ډېر وخت ځورول کېږي او حتا عبادت ځايونه يې سوځول کېږي، يا متصور کړئ، چي د افغانستان اوزبک افغان مېشته سيمي يو فډرالي ايالت شي ( ددوی په خيال ترکستان )، هلته به لږه کي قومونه که تاجک، پښتون او يا نور قومونه استوگن وي، يا به دري ژبه د اوزبکي لپاره پرېږدي، يا به گډې کولو ته اړ کېږي او يا به هم په بل ډول له فډرال ايالته څخه حذفېږي. د فډراليزم هغه فلسفه چي د اقليتونو له خونديتوبه څخه بحث کوي، پخپله د اقليتونو د حذف سبب کېږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

**د - افراطي قومپالنه:** هغه هېوادونه چې د لسواکۍ پوړونه يې نه وي وهلي او مرکزي فدرال هويت يې کمرنګه وي او يا هم فدراليزم د کلتوري عصبيتونو په سبب رامنځته شوی وي، فدراليزم افراطي قومپالنې ته لار پرانيزي، چې په ترڅ کې يې هغه عصبيت لرونکي سياسيون له قومي افراطيت څخه د يوې وسيلې په توګه ګټه پورته کوي، چې پايله يې غير انساني اعمال دي او ټولنې ته پرته له بدمرغۍ نور څه نه لري. دلته فدراليزم فردي ازادي او ولسواک ارزښتونه ګواښي او هويتي مسايل برجسته کوي، چې دا چاره د ولسواکۍ له روح سره ټکر دی.

نور بيا
**هـ- کلتوري جګړې:**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ